شریعت
SHARIAT WEEKLY

اوونيزه

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان دطالبانو داسلامي تحريك مرکزي نشراتي ارګان

دريم کال یو دیرشمه ګڼه پرله پسې (۱۳۱) يکشنبه د ۱٤۱۹ هق کال د محرم الحرام (۲۸) ۱۳۷۷ هـ ش کال د غبرګولي دمياشتي (۳) د ۱۹۹۸ ميلادي کال مې (۲٤)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! . همدا (عدل) ډير نږدې دی تقوا (پرهيزګاری) ته .

(سورة المائدة)

به مناسبت دستار بندي فارغان علوم ديني محفل شانداري در شهر کابل داير ګرديد

روز جمعه ساعت هفت بجه صبح بتاريخ ۲٦ محرم محفل بزرګ دستاربندي فارغان دوره ترجمه قران مجيد، تفسير شريف، تجويد، فقه و حديث شريف در مدرسه مراحه علي موفق هيروي «رح» واقع مسجد جامع (هراتيها) در شهر نو کابل داير ګرديد.

اين محفل پر شکوه که با اشتراك هزاران تن از همو طنان و شهريان شريف کابل داير ګرديده بود با تلاوت آيات چند از کلام الله مجيد توسط استاد الحاج قاري برکت الله «سليم» اغاز ګرديد. درين محفل محترم شاروال شهر کابل و عده يی از اراکين اماراتي تحريك اسلامي طالبان نيز اشتراك ورزيده بودند. همچنان درين ګردهم آيي بزرګ در رابطه به ضرورت همچو محافل و مجالس ديني عده ي از علما از جمله محترم الحاج مولوي عبدالروف خطيب و امام مسجد جامع مذکور، محترم مفسر قرآن مجيد مشهور به «رئيس صاحب»، محترم حاجي محمد موسي، و محترم حاجي عبدالغفار مترجمين قرآن صحبت هاي عالمانه و ارزنده داشتند.

در ختم محفل مذکور تحايفي که از طرف اداره مدرسه مذکور تهيه ګرديده بود براي فارغين و مهمانان توزيع ګرديد. مجلس فوق که تا ساعت ده بجه قبل از ظهر ادامه پيدا نمود و به دعائيه اختتاميه محترم مولوي عبدالرؤف خاتمه پذيرفت.

قابل ياد آوريست که : مدرسه ص،٤،

مرکز کمپيوتر افغانستان فعال ميګردد

مرکز کمپيوتر افغانستان ظرف چهار ماه آينده فعال ميګردد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد به ادامه فعاليت ها و تلاش هاي چشمګيري که از جانب رهبري امارت اسلامي افغانستان در امر باز سازي و احياي مجدد تاسيسات علمي و عام المنفعه کشور به عمل مي ايد اخيراً جلسه يي در جهت فعال شدن دو باره مرکز کمپيوتر افغانستان تحت رياست محترم مولوي قاري دين محمد «حنيف» سرپرست وزارت پلان و به اشتراك مسؤولين وزارت هاي ماليه، تجارت و رياست هاي هوانوردي ملکي و افغانستان بانك و احصائيه مرکزي تدوير يافته بود.

در جلسه روي چګونګي زمينه ها و امکانات احياي دوباره مرکز کمپيوتر بحث صورت ګرفته و فيصله بعمل امد تا مرکز ص،٤،

از اقدامات صلحجويانه و عملکرد هاي اسلامي امارت اسلامي افغانستان پشتيباني بعمل آمد

از اقدامات صلحجويانه و عملکرد هاي اسلامي امارت اسلامي افغانستان طي ګرد همايي از سوي مشران، علما، و اهالي ولسوالي شه جوي ولايت زابل پشتيباني بعمل آمد.

خبرنګار آژانس اطلاعاتي باختر از شهر زابل خبر ميدهد در اين ګردهمايي بعد از آنکه آياتي چند از کلام الله مجيد قرائت ګرديد محترم حاجي عبدالوهاب به نماينده ګي از ديګران در رابطه به اقدامات صلحجويانه و فعاليت هاي چشمګير رهبري امارت اسلامي افغانستان در امر تامين صلح سرتاسري و ص،٤،

عاليقدر امير المؤمنين له بي بي سرۀ په مرکه کې:

د شريعت د تطبيق په کار کې د اعتراض کوونکو په وړاندې به شايد خپل عکس العمل ښکاره کړو

مونږ له مجرم سره شخصي دښمني نه لرو مجرم د بل مسلمان په بدل کې وژل کيږي

د شريعت په تطبيق سره د نسل ژغورنه او د مرګ مخنيوی کيږي

درانه لوستونکي به خبر وي چې نن په نامه عفوې نړيوالې ټولنې د افغانستان د اسلامي امارت لخوا د اسلامي شريعت په تطبيق، د شرعي او حدودو او قصاص په تطبيق يو لړ بې ځايه نيوکې کړي دي او دا يې د دوې په اصطلاح له بشري حقوقو څخه تيري بللی دی.

تيره شپه محترم عاليقدر امير المؤمنين ددې موسسې د بې ځايه نيوکو او پروپاګندونو په هکله له بي بي سي راديو سره په مرکه کې وويل چې : دا خو د خداي «ج» په قرآن باندې ښکاره تيری دی الله «ج» په قرآن فرمايي : « و لکم في القصاص حياة يا اولي الالباب » نو د شريعت په تطبيق سره د نسلو ژغورنه او د خلکو د مرګ مخنيوی هم کيږي.

د دوی دا کار د خداي په قرآن ښکاره اعتراضونه دي. او که دا عمل تکرار شي بيا به شايد مونږ هم خپل عکس العمل په کې ښکاره کړو.

عاليقدر امير المؤمنين د بي بي سي د خبريال ددې پوښتنې په ځواب کې چې : ددوی په نظر محاکمې چې داير شوې په عفوی کې خلکو ته د دفاع حق نه ورکول کيږي تاسو څه واياست ؟ داسې وويل : دا چيرته شوېدي ! هغه دري محکمې دي که ايست دي که حسديث دي هر دليل چې وي په مجرم باندې تطبيقيږي بيا وروسته فيصله کيږي او بيا انسان چې له منځه ځي نو د هغه پليته په ځرنګه نه کيږي ؟ مونږ له دې مجرم سره څه دښمني لرو! ده خو مسلمان قتل کړيدي. د هغه مسلمان په عوض کې دي له منځه ځي او د شرعي قانون په اساس له منځه ځي. دا د قرآن احکام دي ګوره دا حدود دي صراحتاً په قرآن کې، د قرآن ايتونه دي ديته بايد څوك غلط ونه وايي او نه غلط ثابتيږي دا د انسان په قدرت کې نده، قطع د يد (د لاس غوڅول) ده، قصاص دی دغه رنګ رجم دی دا ټول حدود دي، د قرآن صريح ايتونه دي که له دې څخه څوك انکار کوي نو انکار يې کفر دی.

د باغيانو د راکټي بريد په نتيجه کې اته تنه بې ګناه هيوادوال ټپيان او مظلومو هيوادوالو ته درانه مالي تلفات رسيدلي دي

د افغانستان د اسلامي امارت مخالفينو تيره شپه او پرون ورځ سهار د کابل ښار د استوګنې په سيمو باندې د توغنديو بېرحمانه بريدونه وکړل چې په نتيجه کې يې د ماشومانو او ښځو په ګډون زموږ اته تنه هيوادوال ټپيان شوي دي.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ : د مخالفينو توغندي چې د کابل ښار د هوايي بلاکونو د استوګنې په سيمو د کارګري قصبې په ساحو او په کلاي چمن کې لګيدلي دي د کلاستر او اوراګان له ډوله ؤ چې زموږ د يو شمير بې ګناه هيوادوالو په ټپي کيدو پر سيره يې کابل ښاريانو ته زيات مالي تاوانونه اړولي دي.

د باختر د اطلاعاتي آژانس خبريال د توغنديو د لګيدو د سيمو د ګتې او له مصيبت ځپلو هيوادوالو سره د خبرو په ترڅ کې خبر راکړ چې مخالفينو د تيرې شپې په اوږدو او پرون ورځ سهار د کابل ښار په بيلا بيلو غير پوځي سيمو باندې ان توغندي ويشتلي دي چې هغوی په خپل دغه غير اسلامي او غير انساني عمل سره ثابته کړه چې د تفاهم او خبرو له لارې په څلورم مخ

در بخش طبع کتب درسی همکاري صورت ميګيرد

موسسه لجنة الکويت المشترکة للاغاثه در طبع کتب درسي با وزارت معارف همکاري مينمايد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد اين مطلب در ملاقات اخير محترم مولوي عبدالسلام حنيفي معين تدريسي و کفيل وزارت معارف با محترم داکتر احمد ستوسي مدير آن موسسه ص،٤،

د کابل ښار د لومړي ناحيې د اوسيدونکو ستونزې د يوې غونډې په ترڅ کې وڅيړل

د کابل ښار د لومړي ناحيې د خلکو سيمه ييزې ستونزې او مشکلات د يوې غونډې په ترڅ کې وڅيړل شول

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ : په دې غونډه کې له هغه وروسته چې د کلام الله مجيد څو ايتونه ولوستل شول ددغې ناحيې څو تنو سپين ږيرو او د ګذر وکيلانو د لومړي ناحيې د خلکو د مشکلاتو او اړتياو په باب خبرې وکړې او په دې برخه کې يې د مربوطو چارواکو د پاملرنې غوښتنه وکړه.

وروسته د لومړي امنيتي حوزې امر محترم ملا احمد الله حميدي ددغې ناحيې د خلکو د ستونزو د حل کولو او په دې باب د برياليتوب په ارتباط په تفصيل سره خبرې وکړې او د نا امنۍ د مخنيوي او د ټولنيز فساد د عواملو د له منځه وړلو په لاره کې يې د څلورم مخ

له يوويشت کاله څند وروسته :

د لومړي ځل لپاره په غازي ستديوم کې د زرګونو تنو هيوادوالو په محضر کې وزلوبې تر سره شوې

د هيواد د وزلوبې د بيلابيلو ټيمونو تر منځ د جمعې په ورځ د محرم په ۲٦ مه له غرمې وروسته ورزش د زرګونو تنو مينه والو په ګډون د کابل په ملي ورزشي لوبغالي کې د يو لړ مراسمو په ترڅ کې پيل شو.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ : د مراسمو په پيل کې له هغه وروسته چې د کلام الله مجيد څو ايتونه ولوستل شول د المپيك ملي کميټې رئيس په داسې ص،٤،

کشميري مجاهدينو په هندي غاصبينو درانه بريدونه تر سره کړل

د خبري ريپوټونو له مخې د مقبوضه کشمير کشميري مجاهدينو د هندي غاصبينو په يوې اډې باندې بريد کړی دی.

د مجاهدينو خبرځايونو ويلي دي چې دغه بريد پر غچ اخستونکي بريدو چې د يو شمير مجاهدينو له شهادت وروسته شوي دي.

څلورم مخ

سرمقاله

د توی خداي (ج) په نامه

د عفوي نړيواله مؤسسه د بشري حقونو په ضد کار کوي

دا څکه چې : د تيري کوونکي انسانانو سزاګانې يا بيخي نه مني او يا تر داسې اندازې اسانتيا پکې راوستل غواړي چې هغه سزا تيري کوونکي بنيادم له تيري او ناروا څخه نه شي راګرزولی!

دا خبره ټول مني چې د ځينو انسانانو ځانګړې او ټوليزې (فردي او اجتماعي) غوښتنې کله داسې کږ نه رسيږي چې د نورو حقونه هرو مرو پکښې تر پښو لاندې کيږي. نو له دې امله په بشري ټولنه کې داسې اصولونه سخته اړتيا ده چې د هغو په عملي کولو سره د بنيادمو بشري حقونه خوندي شي او ټولنه په امن کې ژوند وکړي!

هر کله چې دا خبره اتفاقي ده نو اوس د اصولو او قوانينو د اغېزې او پوره تطبيق خبره را منځ ته کيږي، د اصولو ښه اغيزه د ټولنې د ژوند له حالاتو نه څرګنديږي. هغه ټولنې چې په معاصرو امنيتي اصولو باور لري او د هغو د تطبيق لپاره يې هر راز پر مخ تللي پوليسي او امنيتي وسايل او په زيات شمير مجهز مسلکي پرسونل هم په کار اچولي دي په هغو اکثرو ټولنو کې د جرائمو ګراف ډير لوړ دی او بدماشانو شمير يې ورځ په ورځ ډيريږي.

دا څکه چې هغه نړيوال اند او فکر چې د عفوي نړيواله موسسه له هغوی څخه نمايندګي کوي د جرايمو د مخ نيوي په قوانينو کې د ډيرې اسانتيا غوښتنه او هڅه کوي. له دې امله ددغو اصولو اغيزه اوس بيخي کمه شوې او يا پر مخ له منځه تللې ده او څکه اوس په نړيواله سطحه د جرايمو او دماشانو شمير مخ په ډير يدو دی او بشري حقونه په ټوله نړۍ کې تر پښو لاندې کيږي!

دوهم مخ

بعد از استعفاي سوهارتو زلزله شديدي در اندونيزيا بوقوع پيوست

زلزله شديدي ايالت کسولاويشي اندونيزيا را تکان داد ولي تا کنون در باره تلفات و خسارات ناشي از آن ګزارش داده نشده است.

زلزله مذکور به شدت شش درجه ريکتر پالومرکز ايالت مذکور و مناطق ص،٤،

سوچبورد تيلفون چهار راهي قمبر مورد بهره برداري قرار ګرفت

سوچبورد تيلفون چهار راهي قمبر شهر کابل طي محفلي افتتاح و مورد بهره برداري قرار ګرفت.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد در محفليکه به همين مناسبت در تعمير مخابرات چهار راهي قمبر تدوير يافته بود محترم الحاج ص،٤،

انجمن ادبي شعرا و نويسندګان ولايت کندهار فتتاح ګرديد

انجمن ادبي شعرا و نويسنده ګان در شهر قندهار طي محفلي افتتاح ګرديد. ص،٤،

به اثر سعي و تلاش منسوبين قومانداني امنيه ولايت وردك يکمقدار سلاح و مهمات به دست آمد

به اثر سعي و تلاش منسوبين قومانداني امنيه ولايت ميدان وردك يکمقدار سلاح و مهمات اخيراً کشف و به دست آمد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد، سلاح و مهمات متذکره که شامل يکصد و بيست حلقه ماين ضد تانك، هفتاد فير مرمي بي ام ٤٠، صد ها صندوق ص،٤،

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریک
دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتک»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوي گڼي بیه : په هېواد کي (۱۰۰۰) افغانی پهپاکستانکی(۳) کلداری
پوست بکس : (٤٧١)
په پیسور کي :دطالبانونمایندگیټیلفون: ۸۱٥٦۲۷-۸۱۸۱٥۷-۸٤٤۳۳۱
جاري حساب : $\frac{٤۰۳۸٥}{۷}$ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : دولتی مطبعه

د سرمقالي پاتي برخه

په دې خبره که د عفوي نړیواله موسسه اعتراف وکړي بايي ونه کړي مگر واقعیتونه او ثابت حقایق د جرمونو او مجرمینو د ډېربښت گواهي ورکوي له همدي امله : جرائمو د مخنیوي د اصولو د اسانه کولو هڅي او په سختو قوانینو پد رد ویل او د هغو غندل دبشري حقوقو په ضد کار او له بشري حقوقو سره خیانت دي؛

: عفوي نړیواله مؤسسه ، هغي ته ورته کړي (حلقي) او هغه نور جوړښتونه چي د:غو هڅو ملاتړ کوي په بشري خیانت کي ککړ دي او د بي شمیره جرمونو او بشري حقوقو وبال بي په غاړه دي، ان تر دي چي د امریکا جمهور رئیس بل کلنټن هم ددغو اصولو او هغو دوسیو پروا نه کوي چي د زنا په جرم پکښي ککړ او تورن دي؛

: عفوي نړي والي مؤسسي د ۱۹۹۸ م کال د اپریل په بوویشتمه د امریکا غږ را:یو د پښتو په مابامني خپرونه کي یو رپوټ خپور کړي دي چي په هغه کي بي هغه قصاصونه ، حدود او تعزیرات یاد کړي دي چي اسلامي شریعت د بشري حقوق د خوندي کولو او په ټولنه کي د امنیت ټینگولو لپاره وضع کړي دي او د افغانستان اسلامي امارت بي عملي کوي، په راپور کي بي دا هم ویلي دي چي محکومینوته د دفاع او محاکمي موقع نه ورکوله کیږي، د مرافعي سیستم هم نشته او حکم داسي خلك کوي چي حقوقي تعلیم نه لري، د عفوي نړیواله موسسه د افغانستان په اسلامي امارت غږ کوي چي دغه کارونه دي نور پرېږدي، نعوذ بالله تعالي – !

صدارنگه د امریکا د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت په کلني راپور کي هم دغه شانته څرگندوني راغلي دي موږ دا خبره منو چي د عفوي نړیواله مؤسسه او هغه ذهنیتونه چي دغه موسسه د هغوي نمایندگي کوي په اسلامي شریعت ایمان نه لري او د اسلامي شریعت د حکمونو له مثبتي اغیزي نه سترگي پټوي،

مگر څو تیمگړتیاوي پکي شته چي : یو څو دومره اخلاقي پوهه نه لري چي د یوي ټولني نافذه قوانینو ته په درنه سترگه وگوري او د ټولني د مقدساتو درناوی په پام کي ولیسي او په درنښت سره بي یاد کړي، بل دا چي هره ټولنه د خپلو نافذه قوانینو په هکله په کلونو، کلونو فکر کوي، اغیزه بي څیړي او بیا بي په کاك عزم سره نافذ وي، دغه موسسه څنگه کولاي شي او څه رنگه ځان ته جرأت ورکوي چي په یوه غږ سره د ټولنو نافذه قوانین منسوخ کړي، بل دا چي وايي : د افغانستان اسلامي امارت د مرافعي سیستم نه لري او حکم داسي کسان کوي چي حقوقي زده کړه بي نه وي، دا خبره دروغ ده او د دومره لوي نوم موسسه په دروغو ویلو بد نامه کوي او شرموي بي؛ ځکه دلته هره شرعي سزا د ابتدایي او مرافعي له مرحلو نه تیرېږي او د رهبري مقام توثیق هم وربانديکیږي،

: سزا حکم داسي کسان صادروي چي فقهي قوانینو کي پوره بلدیت او مهارت لري، نړیوالي حقوقي زده کړي ته اړتیا نه لري ځکه چي حکم د هغو په بنسټ نه صادروي؛ له دي سره سره د امنیت په ټینگولو او د جرایمو په کمولو او له منځه وړلو کي د اسلامي شریعت د سزا گانو (قصاص او حدودو) اغیزه له پامه غورزول حقوقي خیانت هم دي؛

په افغانستان کي له دوولسیزو نه زیاته موده اترشي«زور حق دي» حکومت کاوه، د طالبانو د اسلامي تحریك له رامنځ ته کیدلو او د شرعي قوانینو له نافذولو سره سم بي له ځنډه حیرانوونکي امنیت منځ ته راغي، که دغه د شرعي قوانینو د نفاذ اغیزه نه ده نو څه دي ؟

دا خبري د وخت په ژبه د عفوي موسسي او هغو جوړښتونو ته کوو دچي دغه موسسه د هغوي د ذهنیت نماینده گي کوي، که حق او واقعیت ووایو نو هغه دا ده چي اسلامي اصول او قوانین د انسانانو د دنیا او اخرت د ښیگڼو لپاره هغه ذات جل جلاله راستولي دي چي هغه د انسانانو او ټولو مخلوقاتو پیدا کوونکي دي د انسانانو په غوښتنو، اسرارو او گټو پوره پوره خبر دي، که په دغو حکمو نو ایمان ولري او عمل پري وکړي بي له شکه به بي د دنیا او اخرت ټولي ښیگڼي په برخه شي.

والله یقول الحق و هو یهدي السبیل

امیر المؤمنین و رفاه عامه

عمر ثاني امیر المؤمنین عمر بن عبدالعزیز «رح» در امورات رفاه عامه نیز توجه خاص داشتند، چنانچه بخاطر سهولت و آرامي مسافران و عابرین راه به والیان خراسان و ماوّرالنهر هدایت دادند تا در تمام مسیر راه ها مهمان خانه ها و سراي آباد نمایند. هم چنان هر مسلمانیکه از مناطق ساحه تحت سلطه ایشان عبور و مرور نمایند، مدت یك شبانه روز مهمان والیان و دیگر مسولین امور محسوب گردیده و از وسایل سواري و اموال آنان محافظت بعمل مي آمد .

اشخاصیکه در حین ادامه سفر اگر مریض میگردیدند مدت دو شبانه روز مهمان آنان (والیان و دیگر مسوولین امور) بوده و در باره تداوي ایشان اقدام لازم میگردید.

بر علاوه افرادیکه زاد و راحله (توشه و خرچ) راه نداشتند همانقدر همرایش مساعدت میگردید که تا به خانه و یا مقصد جاي خویش مي رسیدند.

د بیان آزادي که ...

په پاکستان کي د توهین رسالت په جرم یو عیسایي د ساهیوال د ابتدائیه محکمي له خوا په مرگ محکوم شوي دي ددغه حکم پر خلاف د واتیکان او پاپ پر ځاي د امریکي د بهرنیو چارو وزارت له خوا یوه اعتراضیه اعلامیه خپره شوه او ددغه قانون دله منځه وړلو غوښتنه بي وکړه.

د محکمي د حکم پر خلاف چي کوم اعتراضونه شوي دي په هغي کي ویل شوي چي دغه قانون د بیان او نظر څرگندولو آزادي تر پښو لاندي کوي.

د حیراني ځاي دا دي چي د دین او مذهب پر خلاف توهین، د بیان او نظر څرگندولو د آزادي په نوم پیژندل کیږي د آزادي دغه مفهوم او تعبیر نه دا چي حیرانوونکي دي بلکي خطرناك او د آزادي د درواغجنو علمبردارانو د حقیقت او ماهیت څرگندوي دي .

په پاکستان کي داسي پیښي محکي هم شوي خو مجرم ته د لوړو محکمو له خوا برأت ورکړل شوي او په اروپا او امریکا کي د اوسیدو لپاره دعوت شوي دي .

له وروستي پیښي څو ورځي وروسته د فیصل اباد د رومن کاتولیك کلیسا مشر داکتر جان جوزوف د ځان وژني خبر خپور شو، چي گني د ایوب مسیح د محکومیت پر خلاف بي د اعتراض په توگه د محکمي په وړاندي ځان په تومانچه ویشتلي. له دغه خبر سره نه یواځي دا چي په پاکستان کي مسیحانو په مظاهرو او اعتراض لاس پوري کړي بلکي امریکا او نورو غربي

هیوادونو هم د توند او سخت موقف څرگندونه وکړه او ویي غوښتل چي پاکستان دي د توهین رسالت په جرم کي ککړ سړي ته د مرگ حکم بیرته واخلي.

په دي مسأله کي د غور وړ ټکي دا دي چي امریکا او غربي نړي ولي له دغه قانون نه اندیښنه او ویره لري، که دوي اسلام ته لکه چي وايي درناوي ولري او په مذهبي آزادي معتقد وي بیا نو لدي قانون هیڅ ویره نه.ده ورته په کار ، معنا دا چي

بو څوك غلا نه كوي، هغه د غلا له جزا نه که هر څومره سخته هم وي ولي ویره ولري که یو څوك د کوم دین او مذهب سپکاوي نه کوي د هغي جزا که هر څه وي باید د اندیښني وړ ونه گڼل شي.

خو لدغسي یوه قانون نه د دومره ویري، اندیښني او مخالفت څرگندول او د هغي د له منځه وړلو کمپاین دا څرگندوي چي ددغو حلقو نیتونه سم نه دي او له هغوي سره ددغي ناروا د ارتکاب نیت او قصد موجود دي، مسلمانان حضرت عیسی «ع» د الله تعالي غوره بنده او پیغمبر گڼي د مسلمان ایمان تر هغي بشپړ نشي گڼل کیداي چي په انبیاوو علیهم السلام ایمان ونه لري، که دغه حلقي غواړي چي مسلمانان هم دي ته وهڅوي

چي د تعصب او ضد له مخي العیاذ باالله حضرت عیسي علیه السلام په هکله گستاخي وکړي دا د مسلمان حقیقت او حیثیت نشي کیداي. د ډاکټر جان جوزوف د ځان وژني په اړه وروستي انکشافات څرگندوي چي دا کار د هغه سازش د څنځیر یوه کړي ده چي د اسلام او مسلمانانو پر خلاف را منځ ته شوي دي .

وروستي رپوټونه وايي چي جان جوزوف انتحار نه دي کړي بلکي وژل شوي او د شپي بي مړي د محکمي په مخه کي اچول شوي دي، په رپوټ کي د جان

جوزوف د وژلو په اړه دوي خبري رامخي ته شوي یوه دا چي کوم پنځلس لکه ډالره چي پاکستان کي کلیسا ته د توهین رسالت د تورن په هکله د اعدام د قانون د مشوخولو لپاره ورکړل شوي د هغي د ویش پر سر د ډاکټر جان جوزوف او فادر یعقوب تر منځ جنجال پیدا شوي او بله دا چي له جان جوزوف وروسته فادر یعقوب د رومن کاتولیك کلیسا مشر ټاکل کیده، دغه خبره بو بل عیسایي مشر، کیت لیسلي هم کړي او د جان جوزوف ځان وژنه بي قتل گڼلي دي، پدي اړه دا انکشاف هم شوي چي د محکمي په مخ کي کوم ځاي چي د جان جوزوف مړي پروت ؤ ابله څو ثاڅکي وینه توبي شوي او بله دا چي که ده ځان وژلی نو د ورځي به بي په عام محضر کي دا کار

کړي ژېړي اړه د مي پر۱۷ مه بواځي د کراچي یوي انگریزي ورځپاڼي دغه خبر خپور کړي او نورو خپرونو پدي اړه هیڅ نه دي خپاره کړي مطلب دا چي هغوي ته پدي اړه څه خبرتیا نده رسیدلی،

تر اوسه چي چا د اسلام او د اسلام د پیغمبر «ص» په شان کي گستاخي کړي هغوي ته نه یواځي دا چي جزا نه ده ورکړل شوي بلکي هر کلي او درناوي بي شوي چي سلمان رشدي، تسلیمه نسرین او څو نوربي ژوندي بیلگي دي، تیري لا دا چي دغه گستاخي د بیان او نظر څرگندولو د آزادي په نوم معرفي کیږي ، لدي څرگندېږي چي د نړیوال کفر په وړاندي آزادي څه معنا او تعبیر لري؟

د جان جوزوف قتل او د ایوب مسیح او نورو گستاخي هغه سازشونه او توطیې را برسیره کوي چي په بیلا بیلو بڼو د اسلام پر خلاف په لار اچول شوي.

له سلمان رشدي نه ځکه غرب ملاتړ کوي چي د بریطانیي تابعیت لري او ایوب مسیح ځکه باید معـڤون وي چي عیسایي دي او څرنگه چي عیسایان په پاکستان کي د شرابو او زکوة له قانون نه مستثني دي دغسي باید له دغه قانون نه هم مستثني وبلل شي .

بیکنځل او بهتان په هره ټولنه او هر دین او مذهب کي مذموم عمل او ناروا کار دي، د بیکنځلو لپاره د معـصونیت او ازادي لټون د اخلاقي ، دیني، مذهبي او انساني ارځښتونو مخالف عمل دي او ددغه مذموم عمل د تائید له پاره د غرب هلي ځلي د هغو پټو سازشونو او دسیسو نه پرده پورته کوي چي د آزادي او داسي نورو نومونو لاندي په لار اچول شوېدي .

پټی پاڼی

شهرت ننګیال

کورنی فقه

ځلورمه برخه ۳۳

څوك په زوي توب نیول او دیني ورو ري

قاضي محمد حسن "حقیار"

له بي وزله او بي سرپرسته کوچني سره مرسته

اسلام د په زوي توب نیولو هغه ډول حرام کړېدي چي څوك دداسي چا د پلار ولي نسبت ځانته وکړي چي د هغه خپل پلار معلوم او دده له نطفي څخه نه وي او داسي یو پردي سړي ته د خپل سکه زوي حیثیت او حقوق ورکول له اسلام سره منافي وگڼل شو او امر بي وکړ چي دوي په شرعي لحاظ پر دي دي او داسي چلند ورسره وکړي لکه څوك بي چي له پردیو خلکو سره کوي د مثال په ډول په میراث کي بي مه شریکوي ، ښځي به مونږي ستر او پرده کوي او ...

زمونږ په ټولنه کي یو رواج دا دي چي یو څوك له یو بي وزله، یتیم او بي سرپرسته کوچني سره مرسته کوي او د خپل زوي په سترگه ورته گوري مثلاً له یو یتیم یا بي سرپرسته کوچني سره مرسته کوي د هغه پالنه کوي، د هغه خوراك، جامه، خرڅ ، لگښت او نوري اړتیاوي بي په ځان لازمي کړي وي د،هغه د ښوونې او روزني لپاره هڅه کوي په دي اړه بي ټولي اړتیاوي پوازي او یوازي د الله«ج» د رضا لپاره پوره کوي. دا ډول کوچني د هغه کورته هم ځي او راځي د خپل زوي په څېر تري ستر نه

کیږي، نو په دي هکله باید ووبل شي چي دا صورت له پورتني سره صورت سره چي موږ مخکي ورته اشاره وکړه بشپړ توپیر لري مثلاً له اسلام نه وړاندي به عربو دا ډول کوچني خپل سکه زوي باله سره ددي چي پلار او نسب به بي معلوم و په میراث کي به سهیم وو، ستر او پرده تري نه کیده که څه هم دا هلك به پوره بالغ وو او شرعاً به پرده تري واجب وه. مگر په دي صورت کي د هغه د زوي ولي نسبت ځانته نه کیږي، د سکه زوي په څېر په میراث کي شریك نه گڼل کیږي چي د نورو اولاد و په حقوقو تیري وي د بلوغ په وخت کي ستر او پرده ورڅني کیږي (له کوچني نه خو په هر حال ستر او پرده لازم نده) د کور محرم نه گڼل کیږي ددي سري نور محرمات پري حرام نه گڼل کیږي نو دا صورت له مخکي صورت سره کاملاً توپیر لري چي دا وروستني صورت نه یوازي دا چي جائز دي بلکه د اسلام مفهوم او روح هم همدا دي چي له مظلوم او بیچاره سره مرسته ، د نیستمن لاسنیوي. د بي سرپرسته پالنه او .... ټول په کي شامل دي.

همدا راز که کوم کوچني هیڅ وارث نه لري بي سرپرسته او در په دره گرځي او څوك بي وساتي په خپل کورکي بي لوي کړي. د هغه نفقه، جامه ... هر څه په ځان وښي د

خپلي مینې او شفقت وزري پري خپري کړي له فسق او فجور نه بي وژغوري تهذیب، شایستگي، وروښیي، نیك بي وروزي، تعلیم پري وکړي نو دا یو نیك اقدام اوعیناً د اسلام غوښتنه ده خو کله چي همدا کوچني چي په همدي کور کي لوي شویدي که څه هم لس دولس کاله بي په همدي کورکي تیر کړي وي د بلوغ مرحلي ته ورسیږي نو که له دي کور سره کوم بل نسبي تړاوونه لري نو دا ددي کور لپاره پردي شو او بیا به تري ستر او پرده کیږي.

په اسلام کي دا ډول خلکو ته د ډیر اجر او ثواب وعده ورکړل شوي ده څوك چي د یو بي سرپرسته کوچني پالنه کوي رسول الله «ص» فرمایي « انا و کافل الیتیم في الجنة هکذا و ... » بخاري ، ابو داؤد او ترمذي.

یعني « زه او د یتیم کفالت کوونکي به په جنت کي دا ډول یو او د شهادت او منځني گوتو باندي بي اشاره وکړه ا د دواړو گوتو تر منځ بي لږه پراخي راوسته» موږ چي د په زوي توب نیولو کوم روا او ناروا صورتونه بیان کړل هغه د هلکانو او انجونو دواړو لپاره یو شان د تعمیل وړ دي یعني څرنگه چي ځانته د پردي زوي منسوبول حرام دي همدا راز د پردي لور منسوبول هم ځانته حرام دي څرنگه چي د پردي زوي ته پرده او ستر پکار ده همدا راز چاته روا نه دي چي د پردي بالغي لور سره

ازاد کښیني، پاتي دا انجلي که څه هم ده کوچني لوبه کړي وي خو له بلوغ نه وروسته کېدو ي تر منځ د حرمت کوم بل لامل نه وي نو د پردي حکم ورته لري او چلند به بي د نامحرمو په څیر وي.

همدا راز څرنگه چي د یو پردي بي وزله او نیستمن زوي روزنه، ښوونه، جامه، پالنه او نفقه په غاړه اخستل ثواب لري او نه کار گڼل کیږي همداسي دبي وزلي انجلي پالنه، نفقه، جامه، روزنه، تعلیم او زده کړه هم ثواب لري، له کوچنیانو سره مینه او محبت ثواب لري .

رسول الله «ص» کوچنیانو سره مینه او محبت کاوه، له هغوي سره به لوبیده، حسنین «رض» به بي په اوږو ورختل، حضرت ام خالد «رض» روایت کوي چي زه کوچني وم او له خپل پلار سره د رسول الله «ص» څنگ ته ورغلي وم زما په ځان کي ژیړ کمیس وو رسول الله «ص» بي په لیدلو ،د خوش طبعي) په ډ ول وفرمایل «سنه سنه» (دا لفظ حبشي ژبه ده چي په عربي کي د «حسنة حسنة» (ډیر ښه ډیر ښه) په معني دي) صا د رسول الله «ص» په مهر نبوت لوبي پیل کړي پلار مي منع کولم خو رسول الله «ص» ورته وفرمایل چي پري بي پږده» بخاري کتاب الادب

نو له دي او داسي نورو روایاتو څخه ښکاري چي رسول الله به له کوچنیانو سره مینه کوله له هغوي سره بي شفقت کاوه او په ځانگړي ډول په یتیم، بي وزله او بي سرپرسته خو شفقت ډیر ثواب لري په هغوي ترحم له هغوي سره مینه د هغوي پالنه ډیر د اجر کار ده خو د سکه زوي حیثیت ورکول د اسلام له روح سره سمون نه خوري.

زه څه تحفه لرم؟

ډاكتر باز محمد «ښادمن»

هوا! ښه مي ياد يي په انتاني شفاخانه كي به ناست وي ته رئيس وي مگر خپل وخت به دي په ليك او لوست تير او و ما به درته ويل عمر ډير لنډ ده وخت نشته ايا ته به له دي نه وروسته ملا كيږي ؟ تا به په ورين تندي او له خندا ډكه خوله وويل كه يو ساعت د ژوند مي هم پاتي وي د علم په زده كړه كي به يي تيروم. له كور څخه راغلي وي،تلويزيون تيي ته ولاړو او هلته مي څو ځلي درته وويل چي څومره ډير وخت دي كور كي تير كړ ته به موسكي شوي او ويه دي ويل « ته وايي عمر ډير لنډ دي » ځكه مي شپي زياتي تيري كړي. د ماښام لمونځ كي څنگ تر څنگ سره ولاړ و او ادامو كړ باد ډير تيز شو تا په خندا خندا راته ويل چي اوس كابل ته وگوره څرنگه ښه ښكاري چي راښكته كيدو وعده دي وكړه « زه پسي درځم» ما ډير درته وويل چي راسره ولاړ شه او تا به ويل چي «پسي درځم» . ته څه شوي. هوا! تا د شپي په يوو لسو بجو تيلفون وكړ « زه خبر ي كوم ، زما غږ اوري زما د ملگرو غږونه اوري ، زه كه ژوندي وم سهار په نهه بجي به خبر دركړم . نهه بجي ډير انتظار شوم د ستا غږ مي وانه وريد. څلوربجي د تيلفون زنگ پيدا شو او په څنگ ولاړ ملگري دي وويل ته يي خبري وكړه، ملا محمد داؤد ده خبري درسره كوي. ما هم په تنده درته وويل ولي داسي څوك نه كوي له نهه بجو تر اوسه دي په ما مرگ تير كړ تا ويل خير اوس هم ښه شو چي زما غږ دي واوريدو، خبري اوږدي شوي او ما وغوښتل چي څه خدمت درته وكړم په تيلفون كي دي هم مسكا اوريدل كيدله چي تاويل زه دعا درته كړم ته مي له دعا مه هيره وه .

هوا! رښتيا ما وعده وكړه چي زه به ډيري اوږدي دعاگاني درته كوم، ملا محمد داؤد اخنده دوي دي نه پيژني ته د زابل ولايت د ميزاني د ولسوالي د كابله كلي وي تا ملگري ته ورو وويل چي زه به تيلفون قطع كړم ما درته وويل چي ما واوريدل او تاسو ډير په لوړ غږ سره وخندل .

دوه ورځي وروسته مازيگري لمر زيړ و چي بيادتليفون زنگ شو او په وارخطا غږيي زما نوم واخيست له سلام څخه وروسته يي وويل زه د ملا محمد داود له څنگه ولاړ يم . دغه دي ورو يي كورته يي ورو.ن ههو! نن د شهادت لوړ مقام ته ورسيد ته نشي رارسيدلي ځكه موږ په حركت كي يو هوا! ته يي نشي ليدلي ما هم نور جرأت نه درلود دامي ويل

د تورتوپكو استا كاره
د ښو ځوانانو خون به ستا په غاړه وينه
پرون خو داحالي ژوندي وي
نن دي پر قبر بلبلان ناري وهينه
د ستا خوبو گړي زحمت و
زه په دا پاته ژوندون ځنگه تيرومه
ورځه ورځه په مخ دي ښه شه
زه به دعاوي هميشه درته كومه

زه خو څه تحفه نه لرم چي تاته يي دركړم هوا! هر چاته وايم چي په گډه به اوږدي اوږدي دعاوي درپسي كوو او له خداي«ج» څخه به په زاريو زاريو غواړو چي قبولي يي كړي .

چي كشور د افغانانو معطر كا
د هر بيت مصرع مي زلفي د خوبان كړي

نور علم

مير محمد حيدر «سعيدي»

ميشود گلشن جهان از نور علم
راه يابد كاروان از نور علم

علم ؤ دانش منصبت بالا برد
گر نميداني بدان از نور علم

تا تواني كوش در علم و هنر
بهره گيري هر زمان از نور علم

طفلكان را كن روان در مدرسه
تا كه گردند نكته دان از نور علم

خوش ندارند كجروي را معلمان
راست ميگردد كمان از نور علم

راستي باشد شعار شان مدام
يك دل اند و يك زبان از نور علم

هر متعلم نور چشم معلم است
نيست فرق اين و آن از نور علم

كشتي چون راهي شود در سطح بحر
اين عمل گردد بيان از نور علم

چون به كيهان پا نهد كيهان نورد
خود به خود گردد عيان از نور علم

فيلسوفان جهان گر مرده اند
زنده ماند نام شان از نور علم

هر طيوري كو برارد بال و پر
خود بيابد آشيان از نور علم

كرده وصف معلمين را بيشمار
خالق كون و مكان از نور علم

دين استادان به ما لازم شده
زانكه هستند وارثان از نور علم

از «سعيدي» بشنو اين اشعار نغز
هست بر وي ارمغان از نور علم

د «ارشاد الفقرا» مؤلفه ميرمن نيكبخته

محقق ساهره «ځدراڼ»

افغاني ميرمنو كه له يوي خوا د تاريخ په اوږدوكي د كور د سمبالولو چاري، د اولادونو د پالني او روزني دندي پر مخ بيولي خو د بلي خوابي خپلي ټولني ته د تورو ايانو ملكي زريني، يما، ابو مسلم خراساني د امير پولاد، امير كروړ، طاهر پوشنجي، سيدجمال الدين افغان ، سيفي هروي، منهاج السراج ، ميرويس نيكه، احمد شاه بابا او د ملالي په شان زړور، اتل، پوه ،ملي او سياستدان بچيان وړاندي كړي دي. بي له شكه د افغانستان ټول تومياني د افغاني ميرمني په غيږكي د غيرت او علم، د اسلام او هيواد پالني په روحيه روزل شوي دي. دي اتلي او مهرباني كه له يوي خوا د ماشوم زانگو په لاس كي وه خو د بلي خوا يي په ځپلو ظريفو گوتو د ارشاد القرا په شان زيات كتابونه كښلي او د سياست اقتصاد او فرهنگ مورچل يي تل فعال او پياوړي ساتلي دي له دي امله ده چي پوه او هوښيار افغانان تل د افغاني مور درناوي كوي او دادي زه هم ددي سپيڅلي هدف له پاره د ميرمن نيكبختي په هكله يو څو كرښي كاږم .

ميرمن نيكبخته، لكه څرنگه چي ددي نوم نيكبخته ده او همداسي يوه نيكبخته، عارفه عالمه او شاعره ميرمن د افغانستان په تاريخ كي تيره شوي ده. دا ميرمن په قوم مموزي او د يوه لوي ولي شيخ الله دا د لور ده . بي بي نيكبخته چي د خداي«ج» عارفه او د خپلي زماني رابعه وه، يو كتاب يي د ارشاد الفقرا په نامه د ۹۶۹ هـ ق په حدودو كي ليكلي او په دي كتاب كي يي په شعري ژبه ډير گټهور پندونه او نصيحتونه ويلي دي، چي په ټولنيز ژوندانه كي زموږ له پاره ډير ښه لارښود كيداي شي، لكه چي په يوه نصيحت كي وايي :

د خداي حق ته غاړه كيږده
نوري نوري وينا پريږده
دنيا پاتي له هر چا ده
په اخلاص كي ځني ليږده

او همدارنگه بل ځاي مور ته داسي لارښوونه كوي :

په طلب يي ودريږه
په خدمت يي هوسيږه
له جمله بدو نفرت كړه
و نيكي ته ولاړيږه
په نيكي كي يي اخلاص كړه
بدي مكړه ويوهيږه

او بل ځاي موږ ته د رښتينوالي او د رښتيا پالني درس راكوي او وايي :

په زړه ساد شي اي مومنه!
په ظاهر په باطن سپينه
ظاهر زهد په اخلاص كړه
په زړه ټينگ شه له يقينه
بل ځاي مور خداي او حق پالني ته رابولي او ليكي :
بي پروا، د خداي ته مشه
له غضبه وويريږه
هرغه (هر هغه) فصل چه يي حق دي
په طلب يي وسوځيږه

دا دي افغاني ميرمنو نه يوازي په كور كي د ماشومانو روزنه او پالنه كړي، بلكي فرهنگ په ډگر كي يي خپل وروڼه يوازي نه دي پريښي، كتابونه، نصيحتونه او شعرونه يي كښلي او موږ ته يي په ميراث پريښي تر څو ورڅخه زده وكړو. هيله منده يم، چي اوسني پوهي افغاني ميرمني دغه له رسالت نه ډكه لاره لا پسي تعقيب كړي او پري نه ږدي چي دغه مهربان او با استعداده ښځينه موجوده د افغاني فرهنگ په بيا رغاونه، وده او پرمختيا كي بي برخي او بي اغيزي شي. هيله ده چي د مور او وطن غيږ تل د پوهي ، ښوونې او روزني وياړلي مدرسه وي او د غرور نه ډك سرونه د تل په شان په كي وروزل شي.

شهر باستاني هرات يا گنجينه از اندوخته هاي فرهنگ و هنر نقاشي

شهر باستاني هرات كه داراي تاريخ كهن و معاصر بوده نهفته هاي در گوشه و كنار خود داشته كه از ساليان متمادي سياحين و علاقه مندان از تمام كشور هاي جهان به اين ديار مرد آفرين، داشته هاي آنرا در قدم نخست در سير و سفر رويداد ها و ديدار از اين بنا هاي با شكوه و عظيم در پلان مقدم خويش مي گنجانيدند و از آزمون تاريخ شگفت انگيز اين ميهن زيبا به حيرت مي افتادند و به ساختار و قهرماني هاي اين مرز و بوم خيره مي شدند كه به همين مناسبت پاي صحبت فاضل محترم مولوي عبدالحق آخند آمر آبدات تاريخي شهر باستاني هرات نشسته به خوانندگان ارجمند داشته هاي آنرا در ميان ميگذارم .

سوال : لطفاً پيرامون تاريخچه و پيدايش آثار و اعمار منار هاي هرات و ساختار آن كه در سنوات متمادي اعمار گرديده سال اعمارو اشخاصيكه درين راستا مجاهدت نموده اند؛ توضيحات ارائه نمائيد .

جواب : بنام خداوند پاك : منار هاي مصلي هرات كه از جمله آثار تاريخي حيرت فزاي جهان اسلام در مدنيت جهاني دودمان تيموريان به شمار ميرود ، در حال حاضر فقط بيش از پنج منار آسيب ديده كه همچون شاهد مجسم افتخارات نياكان ما در بيش از پنجصد سال قبل را ياد آوري مي نمايد باقي مانده است .

سوال : در مورد استادان و نقاشان مبتكر مسلكي كه با مهارت بخصوص در بدو تاسيس و اعمار آنرا بنا نموده با رسم و بعضي آلبوم هاي دست داشته و مستند كه توجه علاقمندان اين ساختمان ها را از نگاه هنر نقاشي قانع سازد توضيحات ارائه بداريد ؟

جواب : روزگار قبل از مدنيت تيموري، درين ساحه مساجد و مدارس ديني اعمار گرديده بود كه با روي كار آمدن تيموريان با در نظر داشت موقعيت سوق الجيشي ساحه مذكور به عنوان مركز فرهنگي تيموريان و هرات باستان تعين و بعداً به همت شاه رخ ميرزا و وزراي دانشمند اش به شمول همسر علم پرور وي گوهر شادبيگم در آن احداث و اعمار بنا هاي با حفظ هويت تاريخي ابتدائي اين عصر بذل همت گرديد كه با ساختن مساجدو مدارس و منار هاي تاريخي و مزين در زينت و ارزش اين ساحه افزودند.

اما آنچه لازم به تذكر است اينست كه در زمان سلطنت سلطان حسين بايقرا به توجه وزير دانشمندش امير علي شير نوايي و ساير وزرا و هنرمندان اين عصر توجه خاصي در تزئين اين مناره ها صورت گرفته و سه مدرسه ساحه مذكور يعني مدرسه سلطان حسين ميرزا، مدرسه گوهر شاد و مدرسه شاه رخ كه در آنان مولانا عبدالرحمن جامي به صفت مسؤل و مدرس ايفاي وظيفه مي نمودند، تزئين و مرتب گرديد كه مجموعاً ۱۲ مناره داشت و كليه تزئينات آنرا استاد كمال الدين بهزاد ابن زين الدين و استاد شمس الدين به عهده داشتند كه در مدارس مذكور هزاران تن طلبه مصروف تحصيل علوم متداوله بودند در حدود بيش از هفتاد سال قبل اكثراً بنا هاي متصل مناره ها ويران و بيرحمانه مورد تخريب قرار گرفت در زمان تهاجم روس ها با فير توپ چندين سمت مناره ها متضرر ساخته شد.

سوال : در مورد باز سازي و اعمار آبدات تاريخي و مناره هاي هرات تا حال چه اقداماتي صورت گرفته و در مورد فوق اگر كدام پيشنهادي داريد مهرباني نموده آنرا تذكر دهيد !

جواب : از اينكه ترميم و بازسازي بنا هاي مربوط منار هاي مصلي ضرورت به مبالغ هنگفت پولي دارد بناً در مورد باز سازي منار ها تا حال كار زيادي نشده اما در مورد ساير آبدات اعم از سنگفرش صحن مسجد جامع بزرگ هرات، اعمار وضوخانه ها، كتابخانه بزرگ مدرسه، احياي آبده ملا حسين واعظ كاشفي ، ترميم مناره هاي مسجد تاريخي زيارتجاه تمكوان حضرت خواجه انصار و آبده كرخ و ساير آبدات توجه خاصي صورت گرفته است و آرزو و خواهش ما منحيث مسؤل اين بخش از عموم مردم افغانستان اينست كه از ارزش هاي تاريخي و فرهنگي خويش حفاظت و نگهداري نموده و جلو حفريات غير قانوني را گرفته و به مقامات امارتي اطلاع تخريبات و تجاوزات به ساحات آبدات را عنايت فرمايند.

عطا محمد فريادي

اقوال زرين

۱- آنچه را مي توان بعد از بيست سال تجربه آموخت مطالعه صحيح در يك سال بما مي آموزد.

۲- كتاب در وطن همدم خوب و در بلاد بيگانه آشناي خوبست

۳- مطالعه كتاب يعني تبديل ساعات ملامت بار به ساعات لذت بخش

٤- آنچه مردم را دانشمند مي كند مطالبي نيست كه مي خوانند بلكه چيز هايي است كه ياد ميگيرند.

٥- لذت مطالعه يگانه لذتي است كه بي غل و غش است، موقعي كه ساير لذات از بين ميرود اين لذت همچنان پا برجاست .

٦- اوراق كتاب بمنزله مالهاي هستند كه روح ما را بعالم نور پرواز مي دهد. .

٧- خيلي فرق است بين كسي كه با شوق و حرارت مي خواهد كتابي را مطالعه كند با آدم خسته كه مي خواهد با كتاب خستگي خود را رفع كند.

٨- كتاب بوستان مزيني است كه گلهاي آن از سينه بزرگان مي رويد از مردگان سخن مي گويد و كلام بزرگان را ترجمه مي كند.

غزل

ملا اسد الله «حنيفي»

بيا مي زړه د ښكلي يار د سترگو وار خوړلي دي
مات شو په يو درز د شيشو ښار گوزار خوړلي دي
دا دا نه دا نه ټوټه ټوټه زړگي راوگنډي
څه وشول كه ټال مي په كمڅو د يار خوړلي دي
اوښكي تويوم ترخي ترخي په خپل دليريسي
اوس يي رانه واړه گريوان تار په تار خوړلي دي
راشي ليوني د مېني ټول سره يو كلي كړو
خداي گوور كيدوته يي سوگند اغيار خوړلي دي
تور وېښتان مي سپين شول «حنيفي» د يارپه‌هجركي
ما په هلك توب كي د ځواني بهار خوړلي دي

كابل وزير اكبر خان ۱۵/۱۲/۱٤۱۸

نشان جان همي جو تا نشان از بي نشان يابي
مكان دل طلب كن تا مكان در لامكان يابي
* * *
ز پيري قدر شب هاي جواني مي شود ظاهر
سپيدي هاي كاغذ مي كند روشن سياهي را
* * *
بهوش باش دلي را بقهر نخراشي
بناخني كه تواني گره كشايي كرد
* * *
هر چند سير كرديم جاي چو دل نديديم
با صد جهان كدورت باز اين خرابه جايي است
* * *
نيازارم ز خود هرگز دلي را
كه مي ترسم در آن جاي تو باشد
* * *
ما پي تحصيل يار و يار در دل بوده است
حاصل تحصيل ما تحصيل حاصل بوده است
* * *
هرگز دي زيادتو غافل نبوده ايم
يا گفته ايم نام ترا يا شنيده ايم
* * *
پيمان سعي گسل اگر كار مشكل است
ره رو ملول گر نشود ره دراز نيست

محمد محسن «رفا»

متلونه

- ټول ښه دي نه د ټولو كارونو دپاره
- د سيند اوبه چي لري شي نو كوچني تيري هم په ډاگه كيږي
- د شاتومچي نيش لگوي خو پخپله هم مري.
- درواغجنو او فرصت طلبو ته هر وخت پلمي ډيري دي.
- لويدلي غوټي بيرته بناخونو ته نه پورته كيږي.
- لوړه د انسان عفت او لوړتيا ته زيان رسوي.
- مړي د ژوندبو سترگي خلاصوي.
- ځمكه هغه سوځي چي اور پري بليږي.
- دوه غوبي چي ښكر په ښكر شي زيان يي يوټولوكانو ته رسيږي
- د توري زخم جوړيږي خو د ژبي پرهار نه جوړيږي .
- ميږونه مري خو نومونه يي پاتي كيږي.
- كارغه د زركي تگ كاوه خپل تگ يي هم ورڅخه هير شو.
- اور چي يو ځلي ځنگله ته ولويد نو لامده اووچ دواړه سوځي.
- د ناوړه اولاد د شته والي نه نشتوالي غوره دي.
- اور دي چي پخپله لگولي دي اوس يي پخپله مړ كړه .

خر طالب

ساهو

طالب يم
خړ طالب يم
ټوپك په لاس كي لرم
نور مي بل هيڅ غم نشته
د ژړا څوك نلرم
استاد رخصت راكوي
كتاب په تاخ كي ږدمه
قران په زړه كي لرم
لوږه خو نه پيژنم
په خوار ي رويدي يم زه
مور مي دعاوي كوي
په غرو درخيژم درځم
زما د قام دښمنه
كفن په سر درغلم
نن به حساب پاكوم
طالب يم
خړ طالب يم
بري ارمان دي زما
په خداي ايمان دي زما

سوچبورد تيلفون چهار ...

ملا الله داد طيب معين وزارت مخابرات ، محترم مولوي عبدالواحد معاون ولايت كابل، محترم محمد صديق احمدي رئيس مخابرات ولايت كابل تعدادي از مسوولين و كاركنان وزارت مخابرات ، موي سفيدان محل و جمع كثيري از مردم آنجا اشتراك نموده بودند.

محفل متذكره با تلاوت ايات متبركه قرآن عظيم الشان آغاز يافته سپس رئيس مخابرات ولايت كابل در رابطه به ضرورت و احياي مجدد پروژه هاي عام المنفعه كه از اثر جنگ هاي رژيم قبلي خساره مند و يا تخريب گرديده است صحبت نموده گفت:مسوولين، انجنيران و كاركنان رياست مخابرات ولايت كابل با امكانات وسايل و تجهيزات دست داشته ناچيز خود سوچبورد تيلفون چهار راهي قمبر را احياي مجدد كرده كه با فعال ساختن آن تسهيلات فراوان به مردم منطقه فراهم گرديده است رياست متذكره در نظر دارد كه با امكانات و وسايل دست داشته خويش سيستم تيلفوني ولسوالي هاي ولايت كابل را دو باره احيا و فعال سازد كه كار احياي سوچبورد و سيستم تيلفوني چهار آسياب در آينده نزديك آغاز ميگردد.

در اخير اين محفل كه با قرائت دعائيه مبني بر ختم جنگ و تحكيم نظام اسلامي در سراسر كشور خاتمه يافت براي آنعده از كاركنان رياست مخابرات ولايت كابل كه از خود شايسته گي نشان داده بودند تحايف نقدي توزيع گرديد.

كشميري مجاهدينو په ...

په دغه ريپوټ كي ويل شوي دي چي د مجاهدينو ددغه بريد له امله يو څلويښت تنه هندي سرتيري وژل شوي او څه د پاسه شل تنه ټپيان شوي دي.

د طيبه لشكر يو خبر ځاي ويل مجاهدينو څلور تنه هندي سرتيري نيولي او تر تحقيق لاندي يي نيولي دي.

بعد از استعفاي سوهارتو ...

اطراف آن در اوايل ظهر جمعه ۲۶ محرم به وقت محلي تكان داد و باشنده گان مناطق مذكور از ترس منازل را ترك گفتند.

زلزله مذكور فقط چند ساعت بعد از استعفاء سهارتو رئيس جمهور اندونيزيا رخداد كه به زمامداري سي و دو ساله او پايان بخشيد.

يك مامور موسسه زلزله شناسي در جاگارتا گفت مركز زلزله مذكور در زير بحر در يك هزار و پنجصد كيلو متري شمال شرق جاكارتا موقعيت دارد.

انجمن ادبي شعرا و ...

خبرنگار اژانس اطلاعاتي باختر از شهر قندهار خبر ميدهد : در اين محفل كه به اشتراك دانشمندان، شعرا، ادبا و نويسنده گان شهر كندهار داير گرديده بود بعد از آنكه چند آيات از كلام الله مجيد قرائت گرديد رئيس اطلاعات و كلتور ولايت كندهار در رابطه به ايجاد و ارزشمندي همچو انجمن هاي ادبي در امر تكامل و غنامندي فرهنگ اسلامي كشور از طريق تاسيس چنين انجمن هاي ادبي صحبت نمود .

انجمن متذكره بخاطر توسعه و گسترش فعاليت هاي فرهنگي در ماه يكبار تشكيل جلسه ميدهد .

د كابل ښار د لومړي ناحيي ...

هر راز همكاري ژمنه وكړه .

غونډه د خلكو د خير او فلاح او په ټول افغانستان كي د اسلامي شريعت د بشپړ نافذيدو په باب ددعائيي په لوستلو سره پاي ته ورسيده .

د لومړي ځل لپاره په غازي...

حال كي چي د بهرنيو چارو وزارت سرپرست محترم الحاج ملا محمد حسن اخند، كابل ښاروال، د اسلامي امارت يو شمير مسوولين د المپيك د ملي كميټي د مشرتابه هيأت، په كابل كي اوسيدونكو كور ديپلوماتيكو غړو او د ورزش څه دپاسه شل زره تنه مينه وال او ننداره كوونكي حاضرو د وزلوبي د ورزش د اهميت په باب خبري وكړي.

وروسته د جوزجان او د تخار د ټيمونو تر منځ وزلوبه پيل شوه چي دغه لوبه د اوولسو په مقابل د اوولسو سره د دواړو ټيمونو په گټه په برابره توگه پاي ته ورسيده .

د يادوني وړ ده چي له يوويشت كلونو وروسته د افغانستان د اسلامي امارت په ټينگښت سره د لومړي ځل لپاره ددغه ورزش زرگونو تنو مينه والو په گډون د طالبانو د اسلامي تحريك له خوا د كابل په ملي ورزشي لوبغالي كي وزلوبه كيږي.

به اثر سعي و تلاش ...

مرمي پيكا و راكت هاوان و مقدار زيادي مرمي هاي مختلف النوع ميباشد كه به اثر سعي و تلاش قوماندانى امنيه ولايت ميدان وردك و منسوبين آن قوماندانى اخيراً از مربوطات ولسوالي چكتو با تشريك مساعي مسؤولين ولسوالي مذكور به دست آمده است .

مركز كمپيوتر افغانستان ...

كمپيوتر افغانستان ظرف چهار ماه آينده دو باره به فعاليت آغاز نمايد.

در بخش كتب همكاري...

مورد بحث و گفتگو قرار گرفت .

طي اين ملاقات مدير مؤسسه متذكره همكاري موسسه مذكور را در قسمت طبع كتب درسي مدارس ابراز داشت .

از اقدامات صلحجويانه ...

تنفيذ شريعت اسلامي صحبت نموده بر ضرورت تحكيم و گسترش چنين نظام اسلامي كه صد در صد با خواست و اراده ملت مومن مسلمان افغانستان در حال تكامل ميباشد تاكيد ورزيدند موصوف به نماينده گي از مردم متدين ولسوالي شاه جوي در جهت تقويت حاكميت اسلامي وعده هر نوع همكاري را سپرد .

به مناسبت دستار ...

مذكور پنج سال قبل به ابتكار محترم مولوي عبدالروف امام و خطيب مسجد فوق الذكر ، محترم حاجي وكيل يكتن از ريش سفيدان محل به همكاري الحاج گلاب الدين شيرزايي تأسيس و به فعاليت خويش آغاز نموده است . درين مدرسه هم روزه در حدود ۵۰۰ نفر از شايقين علوم ديني به شمول اطفال خورد سن اعم از ذكور و اناث در رشته هاي مختلف كه ذريعه چند تن از علماً بطور داوطلبانه بدون اجرت و معاش بطور رايگان تحت تعليم علوم ديني قرار گرفته و همه روزه از طرف صبح در خدمت هموطنان مومن و شهريان شريف شهر كابل قرار دارند.

د باغيانو د راكټي بريد په ...

هيواد كي د سولي او امنيت د ټينگښت غوښتونكي ندي بلكي د حل بواځني لاره جنگ بولي.

د اسلامي امارت د مخالفينو د راكټي بريدونو له امله پوځي سيمو ته هيڅ راز زيان نه دي رسيدلي بلكي د استوگني سيمي تاواني شوي دي.

د هوايي بلاكونو په ساحه كي د دوو بلاكونو(اوم او اتم) بلاك كړكي او دروازي بيخي ويجاړي شوي دي او دغه راز يو شخصي موټر بيخي له منځه تللي دي. ددغو توغنديو د لگيدو له امله الحمد لله زمونږ هيوادوالو ته د سر هيڅ راز زيان نه دي اوښتي.

د شريعت تبصره

د مخالفينو بي وخته شرطونو او بهانو مذاكرات چيلنج كړل

په تير وخت كي د افغانستان په چارو كي د ملگرو ملتونو د سر منشي د خاص استازي اخضر ابراهيمي سياسي هلي ځلي ددي سبب شوي چي مخالفين د افغانستان د اسلامي امارت په ژوند پېښونكي اسلامي سياست پوه كړي او ديته يي وهڅوي چي په اسلام اباد كي د پاكستان په منځگړيتوب د اسلامي امارت له يو لوړ رتبه هيأت سره مخامخ خبري وكړي چي دغه خبري په اسلام اباد كي څو ورځي مخكي بي نتيجي پاي ته ورسيدي په خبرو كي د مخالفينو بي ځايه او بي وخته شرطونو دا وښودله چي اصلاً مخالفين د سولي د راتللو سره مخالف دي او د خپل عادت له مخي كله نا كله د ملگرو ملتونو د سياسي هلو ځلو په ترڅ كي دا وايي چي « د افغانستان مسأله د جگړي له لاري نه حل كيږي »

د اسلام اباد د بي گټي او بي نتيجي خبرو وروسته بيا هم د افغانستان اسلامي امارت د مخالفينو سره په راتلونكي كي هم خبرونه خپل ځان چمتو وښوده د ملگرو ملتونو د استازي اخضر ابراهيمي مرستيال جيمز ابن گوبي څو ورځي مخكي په شمال كي د دوستم، كريم خليلي او رباني سره د سولي د خبرو د بيا پيل كيدو په هكله خبري وكړي، دوستم د عالمانو د كميسيون په برخه كي ځيني ملاحظات وړاندي كړل، كريم خليلي وويل چي تر څو د باميانو لاره خلاصه نه شي هغه دغه رنگه كميسيون نه مني او رباني وويل دوستم او خليلي چي هر څه وايي د هغه رايه او خبره هم هماغه ده له دي بي گټي خبرو وروسته د ملگرو ملتونو د استازي مرستيال جيمز ابن گوبي ډير خپه له شمال نه بيرته ستون شو . په تيرو وختو كي او اوس هم مخالفينو په دغه ډول بي ځايه اوتو بوتو هم د ملگرو ملتونو وخت ضايع كړي او هم يي د افغانستان د اسلامي امارت . خو خبره دا ده چي مخالفين اصلاً په جگړه كي خپلي گټي نغښتي ويني نه ، سوله كي . نو ددغه رنگه پوره تجربي په درلودلو سره د افغانستان اسلامي امارت په حقه دي چي ووايي : د مخالفينو سره خبري بي گټي دي هغوي هسي وخت ضايع كوي او د يوي بلي دسيسي په لټه كي دي. د اسلام آباد له خبرو وروسته مخالفينو دا دي بيا هم په دي ورځو كي د خپل جگړه مار خاصيت له مخي په شمال كي د تخار او بغلان په ځينو سيمو كي د اسلامي امارت د ځواكونو په موضع گانو باندي خپلي غلچكي بريدونه پيل كړي او هم يي د روان كال د محرم الحرام په ۲۶ مه د جمعي په ورځ سهار وختي په شمالي كي د اسلامي اردو په ځواكونو يو سخت بريد كړي او هم يي د كابل د هوايي ډگر شاوخوا د استوگني سيمي په توغنديو ويشتلي چي په نتيجه كي د كابل څو تنه مظلوم ښاريان ټپيان شوي او درانده مالي تاوانونه د سيمي خلكو ته رسيدلي دي. خو الحمد لله د اسلامي اردو د ځواكونو په ميړانه او سربښندنه د مخالفينو وروستي بريدونه هم د غوځي ماتي سره مخامخ شوي او د خپلو بادارانو په وړاندي بيا هم تورمخي شول

د افغانستان اسلامي امارت د اسلامي او انساني سياست په درلودلو سره په داسي حال كي چي په پوځي ډگر كي پوره برلاسي لري بيا هم په دي باور دي چي د مخالفينو سره د خبرو دروازي خلاصي وساتي او په دغه ډول بيا هم مخالفينو ته دا چانس وركړي چي خپل سر په گريوان كي ښكته كړي ، رښتينو خبرو ته حاضر شي او نور د اسلامي امارت او د ملگرو ملتونو وخت هسي په بي ځايه آتويانو باندي ضايع نه كړي .

د افغانستان بانك د اوومي ښاري څانگي د مديريت وداني ترميم شوه

په خوشحال مينه كي د افغانستان بانك د اوومي ښاري څانگي د مديريت وداني له بيا احيا كيدو وروسته د يوي غونډي په ترڅ كي د افغانستان بانك د عمومي رئيس لخوا پرانستل شوه او د بانكي معاملاتو د استفادي وړ وگرځيده .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړ : په هغي غونډه كي چي له همدي امله د افغانستان بانك د مشرتابه هيأت د چارواكو او رئيسانو او د كابل ښار د پنځمي ناحيي د عالمانو، سپين ږيرو، درنو طالبانو او يو زيات شمير خلكو په گډون جوړه شوي وه لومړي د كلام الله مجيد څو ايتونه ولوستل شو بيا د افغانستان بانك عمومي رئيس محترم مولوي عبدالرحمن زاهد په هيواد كي د عام المنفعه تاسيساتو د بيا جوړوني او احيا كولو په لاره كي د افغانستان د اسلامي أمارت د اقداماتو په باره كي خبري وكړي او په هيواد كي يي ددغه ښان تاسيساتو احيا كول ارزښتناك وبلل .

د افغانستان بانك د اوومي ښاري څانگي د مديريت وداني چي د تير رژيم د تپل شوي جگړو له امله سخته زيانمنه شوي وه په دي وروستيو وختو كي د افغانستان د اسلامي امارت د چارواكو د پاملرني او مواظبت له امله بيا احيا او د بانكي معاملو د استفادي وړ وگرځيده .

د ننگرهار ولايت د چارواكو اجراآت وڅيړل شول

د ننگرهار ولايت د چارواكو د رئيسانو او ددغه ولايت د بيلا بيلو ولسواليو د ولسوالانو اجراآت او فعاليتونه د جلا جلا غونډو په ترڅ كي وڅيړل شول.

د جلال اباد له ښار نه د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړ په دغو غونډو كښي چي د ننگرهار ولايت د مرستيال او كفيل محترم مولوي صدراعظم په مشري ددغه ولايت په مقر كي جوړي شوي وي له هغه وروسته چي د كلام الله مجيد څو اياتونه ولوستل شول ددغه ولايت د ادارو د رئيسانو او ولسوالانو د اجراآتو او وړاندېزونو په باب هر اړخيز غور او خبري وشوي. په غونډو كي د ننگرهار ولايت د بيلا بيلو ادارو چارواكو او ددغه ولايت د ولسواليو ولسوالانو په وار سره د خپلو كارونو ريپوټونه په جلا جلا توگه وړاندي كړل چي غور او خبري پري وشوي.

ددغو غونډو په بهير كي د ختيځ زون د تنظيميه رياست مرستيال محترم مولوي صدراعظم د ننگرهار ولايت ادارو د چارواكو او ولسوالانو د اجراآتو د څيړني په ترڅ كي د مربوطو كارونو د ښه اجرا په باب لازمي لارښووني وكړي.

دغه راز د ننگرهار ولايت مرستيال او كفيل له دغو چارواكونه وغوښتل چي له خلكو سره له اسلامي نيكو اخلاقونه كار واخلي د الهي او قراني حكمونو د لارښوونو په بشپړي پيروي سره له پخوا زيات د خپلو كړيدلو او ځوريدلو خلكو خدمت وكړي .

ترفيعات افسران رياست عمومي ترافيك طي محـــــفل تـــــوزيع گـــــرديد

به مناسبت ترفيعات افسران رياست عمومي ترافيك محفلي در قرارگاه كندك مراقبتي انرياست بر گذار گرديد.

خبرنگار نظامي آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد در محفليكه به همين مناسبت داير گرديده بود بعد از تلاوت آيات چند از كلام الله مجيد محترم ملا بهادر مسعودي به نماينده گي از رياست تعليم و تربيه آنرياست و محترم ملا نصير احمد اخند معاون رياست ترافيك در رابطه به جريان سالم ترافيكي كه بعد از فتح كابل به دست طلباي كرام در شهر كابل به ميان آمده است صحبت نمودند و پرسونل آنرياست را متوجه وظايف و مسووليت هاي شان در قبال نظم و جريان سالم ترافيكي ساخته از آنان خواستند تا در اين راستا تلاش بيشتر نمايند.

در اخير محفل كارت هاي ترفيعات افسران توسط ملا بهادر و ملا نصير احمد اخند به مستحقين توزيع گرديد و محفل با دعائيه مبني بر تأمين صلح و امنيت سراسري در كشور خاتمه يافت .

مولوي عبدالبصير يكتن از علماي مشهور درهٔ پنجشير از زندان مسعود رها گرديد

قرار اطلاع مولوي عبدالبصير يك تن ازعلماي مشهور ولسوالي حصه دوم درهٔ پنجشير و امام و خطيب مسجد جامع قريه منجوُر مربوط به بازارك پنجشير كه درين اواخر به جرم انتقاد عليه سياست جنگ طلبانه مسعود از طرف افراد شوري نظار زنداني گرديده بود به اثر وساطت ريش سفيدان قريه مذكور از حبس رها گرديد .

در خبر گفتهٔ شده است موصوف در يكي از خطابه هاي روز جمعه كه در آن جمع كثيري از اهالي آنجا حاضر بودند :ادامه جنگ را عليه تحريك اسلامي ناروا دانسته و هم به پاسخ سوالي از حاضرين اظهار نموده بود كه كسانيكه در مقابل امارت اسلامي و تحريك طلبه ها كشته ميشوند خون آنها باطل است .

همچنان علاوه نموده اند كه صلاحيت فيصله امور بايد به علماً سپرده شود ، در حاليكه در ساحات تحت كنترول شوراي نظار صلاحيت فيصله امور بدوش قوماندانان مسلح بوده كه اكثراً از امورات و رموزات شريعت غراي نبوي «ص» بي خبر و مطابق به هواي نفس خويش فيصله مينمايند.

بايد گفت كه چندي قبل مولوي گل عالم يكتن ديگر از مسكونين دره پنجشير نيز به همين جرم زنداني گرديده بود كه بعد از چند مدتي از حبس رها گرديد.

گزارش علاوه مي نمايد كه در دره، پنجشير مردم عوام به مشكلات شديد اقتصادي مواجه بوده و قيمت مواد غذايي به طور سرسام آور بالا رفته است كه در نتيجه زندگي عوام در آنجا رقت بار گرديده و توان خريد مواد غذايي از عهده اكثريت مردم بيرون شده است .

يادونه

ښايي ستاسو ايمان به اجازه درنكړي چي دا ډول سپيڅلي پاڼي په ناوړو ځايونو كښي وغورځوي.

د گډون بيه له هيواد نه بهر		
ملك	شپږ	كلني
پاكستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريكا	US$75	US$150

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Movement of Taliban - Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Peshawar ,Tel # : 844331-818157-815627
Fax: 816088 Peshawar
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press